مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۳/۰۱/۲۲

# پاچا

و،
نه وو،
یو پاچا و...
بس
کارونه د الله وو
سیند ډک و له اوبو نه او چینې به بهېدلې
روا وې لا سندرې
سنځلې به چې ګُل شولې، کوچیان به ډاګ ته راغلل
د خَم* له چینارو سره د ګز ونې ببرې
نیني وې خوندورې
کوچیان به راروان کتار کتار وو لوی جومات ته
څه ښځې – ماشومان د صاییزاده ملا په بند وو
د چا به تور ژیری و او د چا به نیمسری وه
زېلې وه یا زوبی وه
ملا صاییزاده به په پسته سواره ناست و
یوه پتری چاینکه کې شین چای به ورسره و
صاییزاده ملا ستانه و
د تورو توتکیو ځاله جوړه وه چچه کې
پټ شور و صاییزاده کې

***

**د کوچیانو ترمنځ داسې باور پوخ و
چې په دم د صاییزاده کې لوی اثر دی
«زیري دم بابا» ورکړې اجازه ده
او په خپله د ده ختّه هم پخه ده
د کوچیانو اوازه وه
چې کابل کې ناست پاچا یې هم په بند دی
صاییزاده یو ښکلی ځوان و
د قرآن تر څنګ یې ایښی په تاخچه کې
د ملنګ عبدالرحمان بابا دیوان و
پټې پټې ګونګوسې وې
چې پخوا
-په زلمیتوب کې-
صاییزاده ملا رباب هم غږولو
اوس یې هم یوه وړه راډیو تر څنګ وه
پټې پټې یې سندرې اورېدلې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د «قديم» يا د «بېلتون» يا «قمرګلې»
چې راډيو کې به ورپېښ شول خبرونه
ژر يې ستنه اړوله ،
-وېل: مکروه دي—
"ځکه سم نيمايي دروغ دي".
صايبزاده ملا سړی د سياست نه و.
کليوال ځوانان به ګرد ورنه راتاو ول
غنمي ځوان خليپه به د اتڼ ډول ګرځولو
ژرندهګړی شپېلۍ مار و،
د جومات خادم ټوکمار و
د شينو پادهوان غږ به
ياکوربان سره هوا کې تاوېدلو
پټې پټې اوازې وې،
غلې غلې ګونګوسې وې
چې ملا کلونه وړاندې،
هلته برو خانانخېلو* کې مېين و
دلته هلته به واده کې
ښځو غلی غلی نوم د نجلۍ واخيست
«پرتمينه» نومېدله
شوخه لور د دښتکي* شاطر د کور وه
د زلمي صايبزاده ملا په جېب کې
لا تراوسه د هغې د لاس دسمال و
او يوه له رنجو ډکه
په مريو پټه شوې شنه رجړومه
بس همدا د پرتمينې د لاس نښې
او  غمونه صايبزاده سره پرېمانه
د دوه سترګو په حلقو کې يې مقام و
د کږو وروځو محراب کې يې امام و

***

هلته دلته به کيسې خلکو کولې،
چې زلمی ملا سبق پسې و تللی
د ميراث او د منطقو
سختې سختې مسئلې يې
د ځرخي* ملا دوره کې زده کولې
کله کله به د ځرخ په خانقا کې
د اذکارو له حلقې نه شو بېخوده
پرتمينې به په تورو سترګو وخوړ
صايبزاده ملا د عشق مجاز کې ډوب و.
صايبزاده ملا د ځرخ پيريانو ورک کړ
پرتمينې لا رجړومې جوړولې
او د سُنډو ګلدستې يې دسمالونو کې ګنډلې
غنمړلو به چې لمر ولوېد
او مرغۍ به د سنځلو نقره يي پاڼو ته لاړې
پرتمينې به اوبه په بام شيندلې
شپېه روسته به خوږ بوی د لوند اخېړ شو
غرنۍ جارو په لاس کې وه ولاړه
د کړپو* د کنډو لاره به ماښام ته
ورو ورو پټه شوه د مړه مازيګر رنګ کې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هېڅ لاروی به له هېڅ لوري ښکاره نه شو
ماخوستن د لوی جومات له برنډې نه
کوم زلمي په چغچغاري اذان وکړ،
د شاطر د لور زړګی به په دربا شو
د جانان د خوارِه غړ اذان ترې ورک و
د خوږو خوږو خوبو جهان ترې ورک و
نیمه شپه به وه،
کرړي به چرېدل د کلا خواته
پرتمیني به لا سترګي وي ګنډلي
د اسمان د رڼو ستورو په پاولیو
کټکګی*،
د شپانه شپول*،
د بوډۍ مونی.*
لا لیلی او مجنون* لرې له یو بل نه
پرتمیني اورېدلي وو له موره
صاییزاده ملا به راشي درمندو کې...
-چي لیلا و مجنون یوځای شي په اسمان کې-
ګوندي بل تاویز نزلي ته ورنه واخلي.
دي ګیله چي پیریانو
زوړ تاویز ورڅخه وړی دی زیارت ته.
لرې لرې د سورکو بابا* لمن کې
په نري جر* د کړې ژرنده وه ویښه
دریڅه کې یې ځراغ د شیطان بل و
ژرندهګري لا په سوز شپېلی وهله
او نجلۍ ورته په زړه اره اره وه.
د شینو پادهوان وار نن د اوړو و.
غنملو و چي د خان وراره راووت
جرمنی توپک یې نېغ اسمان ته ونیو:
ډز،
ډز،
ډز.
مازیګر اوازه ګډه شوه په کلي
پرتمینه په نامه د سردارخان شوه
د نجلۍ په زړه کي درې زخَمونه جوړ شول
سبحان ربی الأعلی،
سبحان ربی الأعلی،
سبحان ربی الأعلی.
صاییزاده ملا سجدې نه شو راپورته.
د ډیوې د سوزېدلي پلتي بوی شو...
یوه ورځ وه سیند په مره نغمه لګیا و
پوري خَم کي
د ګز سیورو ته هیلی لا کغېدلي
شیرینی لا ګرځوله
د ستوانو شنه مېچنه په دالان کي
چي د کلي په جومات کي یو اشنا غړ اذان وکړ
صاییزاده ملا و کلي ته راغلی
پرتمیني پسي ځوړند نیم ټیکری زینو کي ولوېد
د خورو تورو اوږدو زلفو ځپې یې بام ته ولاړې
د مېین زړګي درزا یې
د سینې په انارونو کي ښکاره وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

غوږ یي ونیوه اذان ته
هو!
پخپله صاییزاده و...
زړه یي ودرزېد په زوره
خو ناڅاپه راپه خود شوه
په زړه دري ځایه زخمي وه

***

صاییزاده وي ښني پرېښي
او د سترګو د کتو انداز یي بېل و
جماعت به یي چي خلاص کړ
او لاسونه به یي لپه کړل دعا ته
څه دعا به یي تر ژبي لاندي وکړه
کله کله به یي سترګي شوي راډکي
څه سپین زیري به هم غبرګ شول ژړغوني
د هرچا دردونه بېل وو
هرچا خپله ورکه غوښته
چا پناه غوښته دوزخ نه
چا جنت پسي ژړا کړه
چا به مړو ته دعا وکړه،
یو کامل ایمان غوښتلو
بل د روغ صورت په ارمان و...
صاییزاده ملا به سترګي کړلي پټي
پرتمینه به یي مخ ته وه ولاړه...
د جومي ماښام به پوري په لمن کي
د سورکو بابا کړه ژرنده کي بل شوه
د یارانو د سوزونو دوهی مسته
صاییزاده او غنمی به ورسره وو
ژرندهګری او د کلي پادهوان ځوان
ورسره به د جومات تو‌کمار خادم شو
تر سبا به د څو سترو زړونو سوز و
راز و نیاز و د ملګرو شواروز و
خبر نه ول کلیوال چي څه تیریږي؟
دا کړه ژرنده په څه باندي تاویږي؟...
یوه ورځ وه،
ګونګوسه شوه،
اوازه شوه
خانانخېلو کي د کریغو زلزله شوه
سردارخان و په کوم ځای کي چا ویشتلی
په دري ډزو په سینه و لګېدلی
د کاریز اوبه رواني وي باغچه کي
د تاوده مني پیتاوي ته بار کړي
غنمي خلیپه ځوارلس تور دیګي وو
د زړي کلا* سپینږیری ملا ګډ و
یادول یي ښاماران د دوزخونو
لړمان او بدهیته سره اورونه
یو کټ ایښی و، تر څنګ یي شور ماشور و
خان ځادر کي سر تاو کړی ورته څګ و
د سردار دوښمن اوښتی تر دښتک و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دښتکی شاطر په ډېرو غمو سر و
خان يي تللی و او لور وه ورته ناسته
پېغله کونډه په نري ليمخي وه ملاسته

***

پسرلی و او سيند غاړو پوري ډک و
د چينو په جر کي خېل مرغاوی تاو شوي
د خَم دنګو چينارونو اړولي
باد ته پېغلي پېغلي پاڼي په نازونو
د تازه شوتلي بوی و په هوا کي
زاڼي ليکه ليکه تلي د کابل خوا ته
صاابيزاده ملا يو بل ماشوم هم دم کړ
په خوږه موسکا يي ګوره لاس کي ورکړه
د کوچيانو د رمو غړونه راغلل
پورته ډاګ کي کړنګاني په شرنګېدو ول
د ورکيو د ترپلو او بغارو
د شپنو د های و هوی ناري خپري وې
پرتميني ټک له بل دسماله ويوست
پټه شونډو کي موسکی وه شرمېدله
لکه ژېړه منه تکه سره شي لمر ته
داسي ياد د بل ديدن وتخنوله
غلي غلي ګونګوسي وې، هلته دلته
چي سرګال په غنملو يا درمندو کي
چي توتان د خَم په ونو کي پاخه شي
پېغله کونډه به د خان په کور واده شي.
پرتميني د لاس نبنه لا ساتله
د ملا وړه راډيو يي وه په څنګ کي
صاابيزاده به يادوله په لنډيو
پټه پټه د رباب د تار په ترنګ کي
د خَم لوري ته د توت وني په بار وې
مازيګر به چينارو ته مرغی راغلي
غنم ژېړ وو،
خو لا لَو نه و لوېدلي،
چي نا څاپه هلته دلته اوازه شوه
په کابل کي ګډه وډه پاچايي شوه
واکمن نه و په وطن کي واک د بل شو
پاچا تللی و، تري پاتي خپل کابل شو
هلته دلته پټي پټي اوازي وې
په جومات او په دېره کي ګونګوسي وې
صاابيزاده ملا سړی د سياست نه و
يا به ناست و د رحمان بابا ديوان ته
يا به خيال کي د يار زلفو ته ويده و
د پاچا د تللو کرمي ګونګوسي وې
او واڼي وې د سپينږيرو تبنتېدلي
تخت چپه و په کابل کي خدای دي خير کړي
له کندوانو برکت په الوتو و
چا ليدلي په چينو کي اوبه خړې
چا نذري ماهيان په جر کي مړه موندلي
چا ليدلي کاريزو کي غټي غنې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ

شني کوترې له برجونو تښتېدلې
لا به لمر د مازيګر په غره ولاړ و
د شينو پادهوان غږ به شو کوڅه کې
"پاده راغله خپل مالونه* درخوندي کړئ"!
لمرلويده به ماشومان کوټو ته ولاړل
دروازو ته به مابنام تمبې لوېدلې
يوه ورځ له داسې ورځو اوازه شوه
چې جومات نه صاييزاده ملا دی تللی
نور يې هرڅه دې پر خپله حجره پريښي
بس يوازې د قرآن تر ښنګه اينی
د رحمان بابا ديوان يې دی اخيستی
د ښتک شاطر هم ژړې تلي ناست دی
شيرينی ترور وارخطا ده، خو موسکی ده
غلي غلي اوازه شوه دلته هلته
د ګودر خورلنې ورو ورو پسنېدلې
پرتمينه بيګانی ده ورکه شوې
مور يې وايي چې پېريانو تښتولې
شيريني ترور خپل خاوند ته سر سرتور کړ
لور مې ډېره ورانېدله ما ليدله
درته وېل مې پرې پيريان د زيارت ناست دي
خدايزده چېرته يې له تورو غرو پناه کړه؟
ښتکي شاطر لا هېڅ ويلی نه شو
د اسونو په کلا کې سپين اس نه و
د شاطر زاړه واسکټ نه کيلي ورکه
د زيارت پيريانو وړې وه چابکه

***

سړکال څه بلا د لويو غمو کال و
د وطن پاچا و تللی له کابله
تخت ميراث و، د قيامت نښې ښکاره وې
صاييزاده و نيمه شپه جومات نه تللی
د رحمان بابا ديوان په رېک نه و
پرتمينه تښتولې وه قاف غره ته
د زيارت جنډو کې پټو ښاپېريانو
او د خان له کلا وتی و په پټه
نازولی سپين سمند له خپل اخوره
د شاطر له جيبه چا وه کيلي وړې؟
دا کيسې به د ګودر خورلنو کړلې
د تنور په غاړه، هم په شنو پټو کې
هم په ډاګ کې، هم کارېز کې هم چينو کې
پېغلو نجونو، پخو ښځو، اناګانو
په راز راز کيسې کولې د پيريانو
آآآ- صلاة توبه په خوله وه د سپينږيرو
ټولې نښې د اخرې زمانې دي
برکت له هرڅه تللی خدای دې خير کړي
له کابله پاچا ورک دی، تخت چپه دی
له جوماته صاييزاده ملا وتلی
پيغله لور د ښتکي پيريانو وړې
له کلا نه د خان اس بيګاه وتلی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

د قیامت نښي له ورایه راښکاره دي
له کندوانو برکت په الوتو دی
د شینو پادهوان بیا سوې نارې دي
"مال راوباسئ، پادې ته خیر یوسئ" !
لا کږه ژرنده تاویږي اوږه باسي
ژرندهګړی هر ماښام څراغ ته ناست وي
په مرموزه موسکا ګوري بر کنډو ته
ماخوستن شپیلۍ ته سوی پوکی ورکړي
د جومات خادم له ټوکو نه لوېدلی
صاییزاده پسې په پټه سلګۍ وکړي
غنمي خلیپه ډول په کور کې پرېښی
بر کنډو ته د پساو* له سره ګوري
او پر خوله یې د یو راز برغولی ایښی

***

خو سپینږیري لا توبې باسي خپه دي
په پاچا او په ملا پسې لاس مروړي
له کابل څخه پاچا مه وای ورک شوی
او کوربان له صاییزاده، چې را سره وای
برکت له هغې ورځې الونیا شو
چې وطن بې صاییزاده او بې پاچا شو.
---------------------------------------------------------------------
**دا منظومه په دوو وزنونو کې لیکل شوې ده .
*خانانخېل، دښتک، څرخ، کړپې، سورکوباباغر، زړه کلا، د سیمو نومونه دي .
*خَم، د سیند پر دوه غاړو د اپښوول شویو ونو کوشنی سمسور ځنګل .
*جر، د غره له چینو څخه د سره یوځای شویو اوبو بهیر ته وایي .
*مال، مالونه : څاروي
*پساو، د کلي د ویالې اړخ ته خاورینه غونډۍ
*کټګکی، د شپانه شپول، د بوډۍ مونۍ د ستورو وښکالي (مجموعې) ته وایي، چې بڼه یې دغو څیزونو ته ورته وي .
*لیلی – مجنون په اسمان کې د دوو ستوریو نومونه دي، چې په کال کې یو ځل سره یوځای کیږي .

اسمان ته لار د ختو نشته
لیلی مجنون په عاشقۍ ختلي دینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ